نړیوال بانک
له بې وسۍ، فقر او غربت څخه ژغورلي
نړۍ ته د رسیدلو لپاره هلې ځلې

دافغانستان اسلامي جمهوریت

# د افغانستان دولت: د نړیوال بانک سره د نوی تړونونو موخه په افغانستان کی د اداري اصلاحاتو پراختیا او د اوبولګولو په بنسټیز جوړښت کې ښه والی دی.

**کابل ــ د ۱۳۸۸ کال د چنګاښ ۱٦ مه:** نن د افغانستان اسلامی جمهوري دولت او نړیوال بانک د ٦۸،۵ میلیون امریکایی ډالرو په ارزښت د وړیا مرستو دوه تړونونه لاسلیک کړل. دغه نوې مرستی د اوبو لګولو د سیسټم د بیارغونی له پروژی څخه، چی همدا اوس جریان لری او همدا راز د پراختیایی موخو په مهمو بر خوکی د بودیجی د کمښت د له مینځه وړلو پخاطرد مالی امکاناتو له برابرولو څخه ملاتړ کوي.

*"نړیوال بانک د تیرو اوو کالو په موده کی د دولتي بودیجې له لاری د ملی پروګرامونو یو له سترو مرستندویه سرچینو څخه ګڼل کیږي."* **دغه خبره د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د مالیی وزیر ښاغلی عمر زاخیلوال وکړه.** نوموړی زیاته کړه: *" ډیر د خوښۍ ځای دی چی نن دوه تړونونه لاسلیک کوو، چی له جملی څخه یی ۳۵میلیون امریکایی ډالر د دولت د پراختیایي بودیجې څخه له کوم قید اوشرط پرته نیغ په نیغه ملاتړ کوي. ددغه ملاتړ له کبله به دولت پدې وتوانیږي چې په پراختیایی ملي پروژو کی له نوموړو مرستو د ګټی اخیستنی په اړه پریکړه وکړي. خو نوموړی ملاتړ په ګڼ شمیر برخو کی لکه په مالي چارو او په عامه اداره کې د اصلاحاتو په بریالی توګه پلی کولو او همدا راز له مالی او اقتصادی سیسټم څخه د منظمی څارنی په ځواب کې، ترسره کیږي. له دی برسیره، د اوبولګولو د سیسټم د بیړنی بیارغونې پروژه د کرنې سکټور بیارغوی، چی دغه کار د افغانستان د اقتصادی ودی لامل ګرځي."*

د پالیسۍ د پراختیا لپاره د ۳۵ میلیون امریکایی ډالرو وړیا مرسته د افغانستان دولت سره د هغو مخکینیو لاس ته راوړنو په پیاوړتیا کی مرسته کوي چی د مالي چارو په اداره او عامه اداری کې د اصلاحاتو د رواني اجنډا له لارې مینځ راغلي دي. دغه مرسته په ځانګړې ډول د مالي چارو د سیسټم د ښه والی او پیاوړتیا، د مالی او اقتصادی سیسټم څخه ښه څارنه او همدا رانګه د دولت د مالي چارو د حساب ورکولو او روڼوالي یا شفافیت د پروسې پیاوړتیا ګڼل کیږي.

*" په تیرو اوو کلنو کی، چی موږ د افغانستان دولت سره یوځای کار کړی دی، و مولیدل چې ان په ډیرو ستونزمنو شرایطو کی هم کولای شو پر ستونزو لاس بری شو او کاري چارو ته ښه والی ور وبخښو،"* دغه خبره **د افغانستان لپاره د نړیوال بانک رئیسې مریم شرمن** وکړه او زیاته کړه چی: *"د مالي چارو په اداره کی ښه والی، د څه نا څه نیم میلیون هکټار کرنیزو مځکو لپاره اوبه لګولو د سیسټم بیا رغونه ددغه پرمختګ په لړ کې له سترو بیلګو څخه شمیرل کیږي. پداسی حال کی چی موږ په ډیرو برخو، لکه د دولت د کاری وړوالی یا ظرفیت د لوړوالی په برخه کی پرمختګونه په سترګو وینو، خو لازمه ده و پوهیږو چی ددغو پرمختګونو د دوام او پیاوړتیا لپاره یو لړ اقدامات اړین ګڼل کیږی. نړیوال بانک ژمن دی چې په افغانستان کی د دولت جوړونی څخه د امکان تر کچې مرسته وکړی".*

د اوبو لګولو د سیستم د بیا رغونې د بیړنۍ پروژې سره د ۳۳،۵ میلیون امریکایي ډالرو په ارزښت مرستی موخه د اوبو لګولو د ۸۵ منځنۍ اندازې یا منځنیو سیستمونو او ۸ سترو سیستمونو بیا رغونه ده. همدارنګه د اوبو د هوا پیژندنی د اسانتیاوو د پراختیا او ورسره د اوبو د بهیر د اندازه کولو د ۳۰ پایې کیبلي استیشن او د ختو د اندازه کولو د لابراتوار ٦ دستګاوو سره هم مرسته کوي. په ۲۰۰۳ کال کی د دغې پروژه د پیل څخه تر اوسه، د اوبولګولو خدمتونه یې د یو سل او پنځه زر هکټارو څخه زیاتو کرنیزو مځکو لپاره چی مخکی لدې د بنسټیز جوړښتونو او د بنیادي امکاناتو د خراب حالت له کبله د اوبولګولو د خدمتونو د شبکو څخه بې برخې وی، برابرې کړي دي. له دې برسیره، له نوې (۹۰) څخه زیات هایدرولیکی سټیشنونه د سیندونو په بستر کی ځای پر ځای شوي دي. دغه سټیشنونه له یوی خوا د اداری د ښه والي، د راتلونکې لپاره د پلان جوړونې او په هیواد کی د اوبو د زیرمو او له بلی خوا د ښی وړاندوینی او د سیلابونو او وچکالیو د

کموالی لپاره د پام وړ ارزښت څخه برخمن دی. نوموړې پروژې د کاري روزنې د پروګرامونو له لارې د اوبولګولو د شبکی د بیارغونې د پروګرامونو په تشخیص، چمتووالی، ډیزائین او سرته رسولو کی د انرژۍ او د اوبو د وزارت د کارکوونکو په کاري وړوالی او ظرفیت کی یی ښه والی رامینځ ته کړی دی. د نوی تقویتي مرستي له کبله په افغانستان کې د اوبولګولو د سکټور لپاره د نړیوال بانک ټولی مرستی ۱۲۶،۳ میلیونه امریکایی ډالرو ته رسیږي.

*"په افغانستان کی د کرنی د سکټور بیارغونه د اوبو د کنټرول او د اوبولګولو د بنسټیزو جوړښتو د ښه والی پورې تړاو لري"* دغه خبره **د افغانستان د اسلامی جمهوري دولت د اوبو او بریښنا وزیر ښاغلی محمد اسماعیل وکړه.** هغه زیاته کړه: "د نړیوال بانک د مرستو په مټ ومو کولای شو چې د پام وړ لاس ته راوړنی ولرو. " د اوبولګولو د سیستم بیارغونه او اوبو ته لاس رسي د هیواد په زیاتو سیمو کی په کرنیزو محصولاتو، لکه غنم، وریجو، اوربشو او همدا راز پیاز، هندوانو او خټکیو کی د پام وړ زیاتوالي لامل ورګرځیده. بې له شکه، د کرنی د سکټور بیارغونه د زرګونو افغانانو، چی کرنه یی د عاید یواځینی سرچینه ګڼل کیږي، د مالی عوایدو د پیاوړتیا لامل ګرځیدلې ده."

**د افغانستان لپاره د نړیوال بانک د مرستو په هکله معلومات:**
نړیوال بانک د ۲۰۰۲ کال (۱۳۸۱ لمریزکال) د اپریل له میاشتی څخه را پدیخوا، د ۱،۸۹ میلیارد امریکایي ډالرو ژمنه کړې ده، چی له جملی څخه یي ۱،۴۵میلیارد وړیا مرستي او ۴۳۶،۴ میلیونه امریکایي ډالر بې ګټې پور دی. د نړیوال بانک زیاتې مرستي د کلیوالي معیشت، د بنسټیزو جوړښتونو د بیارغونې، پوهنې او روغتیایی لومړنیو خدمتونو سره شوی دی. همدا رنګه، نړیوال بانک دافغانستان د بیارغونې صندوق (۳ میلیارد امریکایي ډالر) هم اداره کوی. د ۲۰۰۲ کال څخه را پدیخوا د نړیوالي مالي اداره (چی د نړیوال بانک د ګروپ د خصوصی سکټور څخه د ملاتړ څانګه ده) د ۹۳ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت پانګه اچونه کړې ده، پداسي حال کې، چی نړیوال بانک پورې اړوند د څو اړخیزو پانګه اچونو د تضمین ادارې په افغانستان کی بهرنی پانګه اچونې یی د ۱۰۷ میلیون ډالرو په ارزښت بیمه کړې دي.

**دزیاتو معلوماتو له پاره له دې لاندینیو اشخاصو سره اړیکي ونیسئ:**

عزیزالدین شمس
دمالیي وزارت دمطبوعاتي دفتر مسوول
۰۷۹۹۳۲۶۳۸۲
mof.media@gmail.com

عبدالروف ضیاء
دنړیوال بانك ددفتر دمطبوعاتو او عامه اړیکو مسوول
۰۷۰۰۲۸۰۸۰۰
azia@worldbank.org